مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال
۲۰۲۰/۱۲/۲۴

# پیغام

**آهای!!!**

**نطفو،**

**غوټه شویو وینو،**

**جنینونو،**

**نازېږېدلیو!**

**بېره مه کوئ،**

**مه راځئ!**

**نړۍ**

**د راتللو ځای نه دی.**

**که راغلئ،**

**نیم به قاتل یاست، نیم مقتول.**

**تر مخ مو بل څه نه شته،**

**یوازې دوزخ دی،**

**یوازې دوزخ.**

**هم د قاتل لپاره**

**هم د مقتول لپاره**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**قاتل،**

**د دې لپاره،**

**چې خپل لاسونه يې ترلي نه ول.**

**مقتول،**

**د دې لپاره،**

**چې خپل لاسونه يې پرانيستي نه ول.**

**نو،**

**اې جنينونو،**

**غوټه شويو وينو،**

**نازېږېدليو نطفو،**

**مه راځئ، مه راځئ**

**جهان لا د راتللو نه دی.**

**او که راتللئ ،**

**خامخا راتللئ،**

**نو خپل لاسونه مو هملته پرې کړئ!**

**هغه لاسونه،**

**چې مو خامخا دوزخ ته بيايي.**

**هغه لاسونه،**

**چې له تاسو نه قاتل**

**او**

**يا مقتول جوړوي.**

**يه غوټه شويو وينو،**

**يه جنينونو،**

**يه نازېږده نطفو!**

**هغه هستي،**

**چې لومړی ګام يې د دوزخ درشل وي،**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**په هستېدو نه ارزي**

**په اوسېدو نه ارزي**

**په رنځېدو**

**او**

**دردېدو نه ارزي!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ